AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوالان: ليون پولادا او ليلا پولادا Leon B. Poullada & Leila D.J Poullada
مترجم: عبدالباري جهاني
۲۰۲۰/۰۹/۲۲

# د افغانستان شاهي دولت او متحده ايالات

## The Kingdom of Afghanistan and the United States: 1828-1973

دريمه برخه

دا کتاب د متحده ایالاتو مورخ او ډيپلومات ليون پولادا او د هغه مېرمني ليلا پولادا ليکلی دی. که څه هم چي ټول کتاب د افغانستان او امريکاد اړيکو په اره دی خو ځيني فصلونه يې د افغانستان له اوسنيو حالاتو سره مستقيم تړاو لري ما يې هغه د ترجمي لپاره انتخاب کړي دي. زه يقين لرم چي دا فصلونه به د افغانستان د تاريخ د علاقه مندانو او تاريخ د شاګردانو لپاره په زړه پوري وي.

## شپږم فصل

### د پښتونستان د ستونزي پيل:

د پښتونستان اختلاف، د افغانستان د خپلواکي په تنسته کي يو ناتړلی تار وو. روسانو دا تار په ډېر مهارت کش کړ او ډېره ښه استفاده يې ورڅخه وکړه. امريکا د پښتونستان د تباه کوونکو نتايجو د مخنيوي په هڅو کي ناکامه سوه؛ يو علت يې داوو چي امريکا د دې مسلي په حساسيت نه پوهېده او بل علت يې داوو چي د امريکا مقامات د متحده ايالاتو او پاکستان ترمنځ د ستراتيژيکو اړيکو تر اغېزي لاندي راغلي وه. موږ به په دې فصل کي د امريکا او افغانستان په اړيکو کي د دې مسلي پر زيان رسوونکو اغېزو باندي وږغيږو.

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پښتو د مسلي پر سرله اختلاف سره د هغو ميليونونو قبايلي پښتنو موضوع تړلې ده چي څوک په کوچي اوڅوک په کليوالي حالت کي ژوند کوي او د ډيورنډ د کرښي په اوږدو کي، چي دا دواړه هيوادونه يې پرسر اختلاف سره لري، اوسيږي. دی خلکو ته پښتانه يا پختانه ويل کيږي ځکه چي د دوي ژبه پښتو يا پختو ده او دا يوازي د لهجي خبره ده. روډيارډ کيپلينګ د هند د شمال لوېديځ سرحد په باره کي د افسانو په ليکلو سره دي قوم ته نړی وال شهرت ورکړی دی. پښتانه پر ډيرو قبايلو او د قبايلو پر ښاخونو باندي وېشل سوي دي مګر ګډ مذهب، ژبه، رواجونه او تاريخ لري.

په دغه او ورپسي فصل کي به کوښښ وکړو چي د پښتونستان د مسلي پر قانوني اړخ او نورو پېچلتياوو باندي بحث وکړو او وبه ګورو چي، د دې موضوع ترشا، د پاکستان دريځ څه مجبوريتونه پېش کړي او متحده ايالاتو د دې مسلي په حلولو کي کوم ناکام کوښښونه کړي دي. دا به هم وګورو چي شوروي اتحاد له دې مسلي څخه څرنګه په زړنګي استفاده کړې ده او د متحده ايالاتو او افغانستان ترمنځ يې درز ايجاد کړی او پخپله يې په افغانستان کي اقتصادي، سياسي او پوځي نفوذ کړی دی.

افغانستان د پښتو نستان په مسله کي تاريخي، قومي، کلتوري او قانوني دلايل لري. پر دې برسېره لا، افغانستان، د پښتون نېشنليزم د ملاتړ لپاره، قانع کوونکي داخلي سياسي دلايل لري. د پاکستان دريځ زياتره پر رسمي قانوني دلايلو ولاړ دی او د پښتونستان د موضوع په حلولو کي د خپل هيواد د تجزيه کېدلو وېره ورسره ده. امريکا په دغه موضوع کي ، د خپلو ستراتيژيکو ګټو سره سم، رول لوبولی دی او کوښښ يې کړی دی چي د دواړو هيوادونو ترمنځ چي، امريکا دوستانه اړيکي ورسره لري، دا جنجال له سوله ايزي لاري حل کړي. دلته به لومړی د دواړو مخالفو هيوادونو پر دريځونو باندي بحث وکړو.

### د افغانستان دريځ ــ تاريخي اساس:

پښتانه، له ډېرو قرنونو راهيسي، د افغانستان په جنوبي او ختيځو سيمو کي آباد دي. پوهان د پښتنو پر اصل او نسب باندي اختلاف سره لري مګر دا خبره څرګنده ده چي دا قوم د ميلاد څخه مخکي څلورمه پېړی کي د سکندر کبير په


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زمانه کي دلته اوسېدی. د پښتنو ستراتيژيک موقعيت، چي د هند او مرکزي اسيا تر منځ په غرونو کي اوسېدل، هغوی ته په دې سيمه کي پوځي برلاسی او د تجارتي لارو کنټرول په برخه کړی دی او له هغو امپراطوريو څخه يې چي دوی يې احاطه کړي دي د لارو محصول او سياسي امتيازات اخيستي دي. چاچي د دوی د فتح کولو او تابع کولو کوښښونه کړي دي، ناکام سوي دي او لا يې له آزادی سره د دوی مينه زياته کړې او په مقاومتونو کي يې د ګيريلايی جنګونو مهارتونه ور په برخه کړي دي.
برټانيې، په ۱۸۹۳ کال کي کوښښ وکړ چي، د افغانستان له امير سره د يوه تړون په اساس، په قبايلي سيمو کي ثبات راولي. د دې موافقې په اساس د ډيورنډ کرښه منځته راغله چي د هند او افغانستان ترمنځ د پرتو قبايلو په منځ کي تېره سوه. موږ به د دې کرښي پر قانوني اړخ باندي بحث وکړو خو دا بايد ووايو چي ماهران په دې عقيده دي چي، د يوه بين المللي سرحد په حيث، يوه د بلا په څېر، بدشکله کرښه ده. د کنړ د سيند حوزه او د مهمندو لويه قبيله پر دوو برخو ويشي. اپرېدي د خيبر په دره کي، له افغانستان څخه بهر پرېږدي؛ د سرکښو وزيرو په سيمه کي تيرېږي. نه يې قبيلوي، نه جغرافيايی او نه يې پوځي واقعيتونه په نظر کي نيولي دي. د پښتنو کلي او حتی کورنۍ يې سره وېشلي دي. پښتنو په دې کرښه کي ری ونه واهه؛ مګر د دې کرښي پر سر د افغانستان او د هند د حکومت تر منځ هر وخت جنجال موجود وو او وروسته د افغانستان او پاکستان د اختلاف يو عامل سو.
د پښتونستان ستونزه، په ذات کي، د ډيورنډ له کرښي څخه مخکي پيل سوې ده؛ مګر د دې کرښي کښېدلو دا ستونزه نوره هم سخته او پېچلې کړه او تر شلمي پېړۍ پوري ځکه ورسېده چي انګرېزانو، په خپله خوښه او اختيار، پښتانه قبايل د افغانستان او برټانوي هند ترمنځ وېشلي وه. افغانستان، په اته لسمه پېړۍ او د نونسمي پېړۍ يوه برخه، د شمالي هند پر پراخه سيمه او کشمير باندي واکمني کړې وه. د دغو سيمو ډېره برخه، له دوی څخه، لومړی سيکهانو او بيا انګرېزانو بېله کړه. که څه هم چي په افغانستان کي څو ژبي ويل کيږي او څو قومونه پکښې اوسيږي؛ خو واکمني کورنۍ يې، د تاريخ په اوږدو کي، معمولاً له پښتني نسله دي. پښتنو له دغه امله د پښتني قبايلو د وېشل کېدلو سره سخت مخالفت وکړ. وروسته چي په افغانستان کي هر څه حکومتونه راغلي دي، هر يوه په خپل وار، لږ و ډېر، دا موضوع را پورته کړې او د ډيورنډ د کرښي پر پوري غاړه يې د پښتنو وروڼو د خودمختاری غوښتنه کړې ده.
د پښتنو جنګي قوت او د هغوی ستراتيژيک موقعيت هغوی د روسيې او برټانيې د امپراطوريو تر منځ په مبارزه کي ډېر مهم کړي دي. په نونسمه پېړۍ کي روسانو په مرکزي آسيا کي د جنوب پر لور پرمختګونه پيل کړل او برټانيې د هغوی دا پرمختګ، په هند او ايران کي، خپلو ګټو ته خطر وباله او له هغوی سره د مقابلي لپاره يې د شمال پرلور حرکت وکړ. په دغه وخت کي د افغانستان کمزورو حکومتونو، له خپلي خاوري څخه د دفاع کولو او د دواړو قدرتونو ترمنځ د حايل په توګه ساتلو لپاره قبايل د انګرېزانو په مقابل کي حمايه کول او له هغوی څخه يې د انګرېزانو پر ضد کار اخيست.
په ۱۹۰۷ کال کي برټانيې او روسيې په سينټ پيټرزبورګ کي د برټانيې- روسيې يو تړون لاسليک کړ او په مرکزي اسيا کي يې د نفوذ سيمي وټاکلې. د دوی ترمنځ دغه تړون د پښتنو قبايلو ستونزه حل نه کړه. څرنګه چي له دوی څخه د لويو قدرتونو ترمنځ د يوه قوت په توګه کار اخيستل سوی وو نو دغه حالت د هغوی د ژوند شرايط داسي راوستلي وه چي د حکومتونو منظمه اداره يې نه سوای منلای. د دوی دغي سرکښۍ ته له ډېره وخته درناوی څرګند سوی وو او د دوی د ښورښونو او سرکښيو د مخنيوي لپاره يا دوی ته تنخواوي او رشوتونه ورکول کېدل او يا به حکومتونه، هغوی ته د سزا ورکولو لپاره، ډېرو سختو عملياتو ته مجبور سول او دغو پرله پسې جنګي عملياتو له دوی څخه يو ډول اجتماعي ياغيان جوړ کړي ول. د افغانستان حکومت، سره دې بيا هم، د هغوی په مقابل کي خپل مسووليت احساساوه او د هغوی ښېګڼو ته متوجه وو او کوښښ يې کاوه چي، د وينو د اشتراک څخه په ګټي اخيستلو سره، په هغوی خپل سياسي نفوذ وساتي.
برټانيې هيڅ وخت نه د قبايلو د کرارولو وس پيدا کړ او نه يې د ډيورنډ د کرښي پر پوري غاړه د قبايلو په دوستي ارمان وخوت. د هند حکومت د قبايلو دغو پرله پسې ناکراريو، چي هم يې په افغانستان کي د هغوی نفوذ ته تاوان رساوه او هم يې د هند په شمال لوېديځ سرحد کي هر وخت وضع ورته خرابوله، مجبور کړی وو چي خپلو پاليسيو ته وخت په وخت تغيير ورکړي. کله د پرمخ تللو يا Forward Policy ته مخه کړي او پر قبايلو باندي حملې وکړي او کله هم له نظارت سره د حرکت نه کولو يا Masterly Inactivity پاليسي غوره کړي او هغو سيمو ته پر شا سي چي د هند د حکومت تر بشپړ کنټرول لاندي وې. مغروره پښتنو د هغوی د فارورډ پاليسيو سره، په ډېر قهر او زور، مقاومت کاوه او په خپلو غرونو کي يې ګيريلايي جنګونه ورسره کول او کله چي به د هند حکومت د پرشا کېدلو پاليسي غوره کړه نو دوی به هغوی ته د تحقير په سترګه کتل او بريالۍ موسکا به يې کوله. په پای کي د برټانيې حکومت د کنټرولولو او انتقام اخيستلو پاليسۍ ته مخه کړه.
د برټانيې حکومت په ۱۹۰۱ کال کي په هغه سيمه کي د ادارې طرز او جغرافيايی وېش ته تغيير ورکړ او د شمال لوېديځ سرحد سيمه يې له پنجاب څخه بېله کړه او دا يې بيا پخپله پر مسکونو ناحيو او قبايلي ايجينسيو باندي ووېشله. په دې سيمو کي قوانين د هند له نورو ايالتونو څخه په بېله طريقه عملي کېدل او قبايلي سيمي د هغو تړون ډوله موافقتنامو په اساس اداره کېدلې چي د قبايلو او حکومت ترمنځ به سوي وې او په هره سيمه کي سياسي استازي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مرکزي حکومت ته مستقیماً مسوول وه. د اداري دغه ترتیب پښتانه د خپلواکی تحریک غوښتلو ته وپاړول او د ۱۹۳۰ په لسیزه کي یې د خودمختار پښتونستان د جوړېدلو غوښتنه را منځته کړه.
د سرحد د پښتنو قبایلو حالت او له هغوی سره سلوک، د افغانستان د امیرانو او په هند کي د برتانیي د حکومت ترمنځ د دايمي جنجال یوه ستونزه وه. عبدالرحمن، چي په ۱۸۹۳ کال کي یې د ډیورنډ موافقتنامه لاسلیک کړې وه، او د هغه زوی حبیب الله ، حتی هغه وخت چي د برتانیي حکومت په زور کي وو، دواړو کوښښ کاوه چي د سرحد پر دواړو خواوو باندي پرتو قبایلو کي نفوذ وکړي، ثبات پکښی ټینګ کړي او مرسته ورسره وکړي. پاچا امان الله ۱۹۱۹-۱۹۲۹ کوښښ وکړ چي د برتانیي او افغانستان په دریم جنګ کي، چي په نتیجه کي یې افغانستان استقلال وګاټه، په سرحد کي د پرتو قبایلو پر مرسته باندي تکیه وکړي. امان الله په ۱۹۲۱ کال کي، د دایمي سولي د موافقتنامي د لاسلیک کولو په وخت کي، د برتانیي مختاروزیر ته په ډېرو څرګندو الفاظو وویل چي تر څو پوري برتانیه پر پښتنو قبایلو باندي ، چي له افغانستان سره د هغوی خپلوي هر چاته معلومه ده، ظلم او تېری کوي، نو زموږ ترمنځ تړون به د دوستی نه بلکه د ګاونډیتوب تړون وي.
په ۱۹۲۹ کال کي امان الله وروسته له هغه سقوط وکړچي د افغانستان د عصري کولو د پروګرام له امله یې، چي د قبایلو خپلواکي او د ژوند طرز یې تهدیداوه، د پښتنو قبایلو ملاتړ له لاسه ورکړ. له ده څخه یوه تاجک رهزن تخت ونیوی او هغه ته، د امان الله یوه قریب، جنرال نادر خان ماته ورکړه. نادر د ډیورنډ د کرښي پر دواړو غاړو باندي پښتانه قبایل د دې لپاره سره راغونډ کړل چي په کابل کي د پښتنو د سلسلي شاهي سستم ټینګ کړي.نادر په ۱۹۳۱ کال کي پارلمان ته وویل چي د آزاد سرحد د پښتنو قبایلو مسله د افغانستان د حکومت د خاصي اندېښني وړ موضوع ده. سره له هغه هم د د قبایلو په موضوع کي د نادرخان پالیسی څکه نرمي او نسبتا غیر فعالي وې چي هغه د انګرېزانو په مرسته تخت نیولی وو. د مثال په توګه د ۱۹۳۰ په لسیزه کي د قبایلو په سیمه کي د خدایی خدمتګارو د تحریک په ترڅ کي، نادرخان د خان عبدالغفار خان له ملاتړ څخه ډډه وکړه. دی دغه راز د مهمندو، اورکزیو او افریدیو د ښورښونو په وخت کي بېطرف پاته سو.

## د افغانستان دریځ ـــ کلتوري اړیکي:

د افغانانو د کلتوري ادعا اساس زیاتره د افغانستان د پښتنو او د ډیورنډ د کرښي ختيځي خواته پرتو پښتنو د وینو پر پیوند باندی ولاړ دی. د افغانستان پښتانه په خپل هیواد کي تر ټولو نورو قومونو اکثریت دي. د کرښي پر دواړو خواوو باندي پراته پښتانه، له قرنونو راهیسي مشترک میوزیک، مذهب، ژبه، عادات، ادبیات او د غیرت او ناموس یو شان مقررات او قوانین لري، چي پښتونولي یې بولي. د پښتنو حاکمو شاهي سلسلو دغه مقررات او د وینو پیوندونه ساتلي دي او تر یوه ځایه پوري یې د افغانستان د نورو اقوامو پر ارزښتونو باندي هم اغېزه کړې ده. دا ډېر غښتلی او ژوندی کلتور دی او د افغانستان په اکثرو پښتنو کي یې ژوري ريښي ځغلولي دي. حتی په غرب کي روزل سوي او عصري پښتانه هم په زړونو کي د دغه کلتور تر اغېزې لاندي دي. سره له هغه چي په افغانستان کي د قبایلو ترمنځ او په قبیلو کي دننه د افرادو ترمنځ د کسات اخیستلو او بدل دښمني موجودي دي مګر هغوی له خپلو هغو ورونو سره چي د ډیورنډ کرښي ورڅخه بېل کړي دي ځانونه له یوې ريښي بولي. دا د ملي منطق خبره نه ده بلکه داسي یو شی دی چي د هغوی په وینو کي اخښل سوی او په ما تحت شعور کي یې موجود دی.
د پښتنو اجتماعي سیاسي جوړښت ته که وګورو نو ډېر هغه څه پکښي موجود دي چي د ملت کېدلو لپاره لازم دي. دوی په یوه خاصه سیمه کي اوسېدلي او حکومت یې ورباندي کړی دی او له هغي سیمي څخه یې نور قدرتونه، چي پر دوی باندي یې د حکومت کولو تلاش کړی دی، په بریالیتوب سره ایستلي دي. دوی د قوم او ژبي له اړخه سره یو دي، په مذهب سره شریک دي، یوشان رواجونه لري او یوشان قبیلو او کورنیو ته منسوب دي او یوشان ادبیات، موسیقي، رقص او د هنر ډولونه یې درلودلي دي. په لنډ ډول ویلای سو چي دوی د سیاسي او اجتماعي موسسو له مخي سره یو شان دي او د تاریخ په اوږدو کي یې سیاسي هماهنګي ساتلي ده او وخت په وخت یې د پښتنو نیشنلیزم را پاڅولی دی. دا چي دوی یوې مصنوعي کرښي سره بېل کړي دي، دا حقیقت دوی له دې څخه نه سي را ګرځولای چي د پاکستان په نورو قومونو کي، چي په شمېر کي تر دوی زیات دي، د خپلو ورونو جذبېدل او منحلېدل ونه زغمي. پر دې برسېره د افغانستان مشران د خپلو خلکو، چي دوی یې قدرت ته رسولي دي، پښتني احساسات له نظره نه سي غورځولای او باید د هغوی د غوښتنو او احساساتو سره سم عمل وکړي.

نوربیا

## د افغانستان دریځ ـــ قانوني استدلال


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ